مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۳/۰۴/۱۱

د افغانستان سیاسي - تأریخي ژورنال
(د افغانستان سیاسي تأریخي ګزیټر)

پینځم ټوک
کندهار
او
د افغانستان سویل – مرکزي برخي

دوه سوه دولسمه پرله پسې برخه
ایدیت:
ډاکټر لودویګ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1980

دریم :خشک رود
دا چې د ارغسان نوم له کوم ځایه لومړی پیل کیږي تر اوسه سمه نـهٔ ده روښانه. د پیل دا ټکی ښایي د معروف د ښکلي هوا لرونکي او حاصلخیزي– خو په بشپړه توګه نا پلټل سوي ولسوالی کي وي. د عملي موخو لپاره به موږ د سرخاب او د کیوز د نالي د یو ځای کیدني ټکی په پام کي ونیسو.
د ارغسان ولسوالي. د ارغسان سیند په عام ډول لویدیځ لور ته لږ چې سویل خوا ته میلان لري بهیږي او د بهیر په همدي لور تر هغو دوام کوي چې د کندهار په سویل کي له ډوری سره یو ځای سي. الفنستن وایي چې په همدي نامـهٔ یوهٔ ولسوالي هم سته چې د مارغي په شمال کي موقعیت لري. دا ولسوالی نسبتاً حاصلخیزي ځمکي لري چې د لوړو غرونو په منځ کي واقع او په شین غزو ډکه ده. دا ولسوالي قسماً کرل سوي ده او د بارکزیو د پام وړ کلا ګاني لري خو ددي ولسوالی د استوګنو وګړو ستره شمیره شپانـهٔ دي. هغي سیمي ته چې الفنستن نغوته کوي له شک پرته هغه ځای دی چې اوس د معروف په نوم پیژندل کیږي. خو اوسمهال «۱۹۰۶ز کال» کي هم د ارغسان او هم د معروف ولسوالی سته، د افغانستان د ټولو نورو اداري واحدونو په شان ددوی حدود هم سم نـهٔ دي تعریف سوي او ښایي کال پر کال د بیلابیلو حاکمانو د کرکترونو پر بنسټ بدلون ومومي.
کند یا سرخاب : د استخباراتو د څانګي افسر بریدمن بن چې په ۱۸۹۴ – ۹۵ کي د بلوڅ له سرحدي کمیسیون سره وو د ارغسان د سیند د یوي اساسي څانګي په هکله مغتـنم معلومات وړاندي کوي ، دا څانګه «کند» نومیږي؛ له بل لوري د ۱۸۷۹ – ۸۰ ز کال د سروي ګانو او راپورونو معلومات موږ ته له ډوری سره د یو ځای کیدني تر ټکي پوري د ارغسان

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

د ۶۰ یا ۷۰ وروستیو مایلو په هکله نسبتاً مشرح معلومات راکوي چې د کندهار د سویل په ۱۵ مایلی کې راځي. بریدمن بن وایي : -
"د «گُرابي» [1] (وگورئ : سور ځنگل) [2] په شمال لویدیځ کې د «کند» د سیند سرچینه ده چې د ۵۰ مایلو لپاره د بهیدلو عام لویدیځوال تگ لوری لري او بیا مخه شمال لور ته اړوي او د سرخاب تر نامـۀ لاندې بهیږي چې په پای کې ارغسان کیږي."
"ما ونـۀ سوای کولای چې له هغـۀ ټکي کښته کند تعقیب کړم چې شمال ته تاوییږي او د سرخاب نوم خپلوي، خو د موضوع په اړوند سیمه ییز معلومات وایي چې له همدې ټکي دا سیند د ۱۲ مایلو لپاره د غرونو په منځ کې د بهیدلو شمالي تگلوری لري او ورپسې د معروف په ولسوالی ننوځي او د معروف تر کلا لاندې له ارغسان سره یو ځای کیږي. له دې وروستی وینا موږ دې پایلې ته رسیږو چې د کند په پرتلې د شمال پر لور کوم بل سیند هم سته. بیا هم ما ته له کند څخه مخ پر شمال د منزلونو په منځ کې راته راکړل سوی دی، یو منزل ئـې له کند څخه شمال خوا تر غزني پورې دی چې د ارغسان په نوم یادیږي او ښایي موخه ئـې یوه ولسوالي وي چې په دې نامـۀ سیند ورننوځي. د شمالي ځانگې د سرچینې په هکله موږ قطعي معلومات نـۀ دي ترلاسه کړي، د همدغو معلوماتو په پام کې لرلو سره موږ په سختی سره پریکړه کولای سو چې ددغو دوه وو ځانگو په منځ کې کومه ځانگه ئـې د اساسي ځانگې اصلي سرچینه ده. زه دې ته لیواله یم چې ووایم زما په فکر کند اساسي بهیر دی چې په «گرابي» کې نـۀ بلکه د «گرابي» (غریبي) [3] کوتل ته نیږدې راپورته کیږي او ټولو مطرحو مراجعو د ارغسان د سیند د سرچینې په نامـۀ یاد کړی دی، او کاملاً ممکنه ده چې ددې سیمې په گاونډ کې د «اینځلان» [4] غرنی لړی چې د باور له مخې د «کند» سرچینه ده د هغو غرونو په کتلې کې شامله سوې چې دوی ته د «غریبي» په نوم وربښودل سوي وه." له همدې ټکي لړ پورته د سیلسن / ثلثون سیند له اساسي سیند سره یو ځای کیږي. ددې سیند له سره د بمبـئـي کاروان د سیند سرچینې ته نیږدې وواښت. دا سیند د «نخاس» [5] په لړی کې او د گاونډیو غرونو له منځه راپورته کیږي.
له معروف کښته ارغسان. د سمندر له سطحې د ۴۴۰۰ فیټو د لوړوالي په پام کې نیولو سره له هغې ټکي څخه په پیل کې شمال خوا ته ۶ مایله وړاندې د «نارین» [6] نامتو غرنی څوکه ده او ۸۳۱۰ فیټه لوړوالی لري او له کندهاره ۶۲ مایله لیرې ده، موږ یو سیند وینو چې له یوې تشې څخه راوځي چې په شمال کې د «سمی» [7] او په سویل کې د «کوتکی» [8] د غرونو تر منځ جوړه سوې ده، ددغو غرونو تر منځ د معروف دره ده، دا سیند ۲۰ مایله واټن وهي او بیا په یوۀ تنگي کې د ۷ مایلو لپاره تر هغو شمال لویدیځ تگ لوری نیسي چې دره مخ خلاصې سي.
له همدې ټکي ۶ مایله ورهاخوا «لوړه» [9] له اساسي سیند سره په ښی غاړه کې یو ځای کیږي. د سیلابونو پر مهال د دواړو گډو سویو سیندونو پر اوبو باندې له شمال لوري د ډیرو نالو اوبـۀ راکوزیږي او د ۶ مایلو لپاره مخ پر شمال لویدیځ درومي او کله چې لویدیځ لور ته کوړوالی ومومي له دغو اوبو سره دوهمه ځانگه یو ځای کیږي چې خشک رود نومیږي، دا ټکی له غرونو څخه ۲۱ مایله لیرې دی. دا بهیر د شمال د اساسي غرونو له ډډو تاوییږي، دا غرونه ارغسان له ترنک څخه جلا کوي، په همدې لړ کې د اوبو پر دې بهیر باندې له ښي لوري بې شمیره نورې نالې راکوزیږي، او اوس چې اوبـۀ د بهیدلو سویل لویدیځ لوری نیسي په ۲۵ مایل کې د «واندوز» [10] ستره ناله د سیند په ښي لاس کې د یو ځای کیدلو یا الحاق ټکی جوړوي. همدلته په کیڼ لاس کې یا په سویل کې، غرونه رانیږدې کیږي او سیند تقریباً لویدیځوال لوری نیسي. په دیرشم مایل کې یا له «واندوز» ۵ مایله کښته د «لهار» [11] سیند له سویل لوري د فخرالدین کلي ته نیږدې د سیند له کیڼې غاړې سره یو ځای کیږي. د ۱۸۷۸ – ۱۸۸۰- ۱۸۸۱ کلونو په راپورونو کې ددې سیند یادونه سوې او د سروې په نقشو کې په مشخص ډول ویل سوي چې دا سیند د نارین د غرۀ له لمنو څخه راپورته کیږي، موږ له ارغسان سره دالحاق تر دغـۀ ټکي پورې مو تعقیب کړ او په دې هکله ئـې هیڅ شرحه نـۀ ده ورکړې مگر دا چې دا سیند دې د «لهاري»

---

1 - Gurabai
2 - Surzangal
3 - Gurabai (Gharaibi)
4 - Inzlan
5 - Nakhas
6 - Narin
7 - Samai
8 - Kotkai
9 - Lora
10 - Wandoz
11 - Lahar

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

[12] له سیند سره مغالطه سوی وي. او همدا شان له بلې ستري نالې سره ښايي مغالطه سوی وي چې دوه یا ۳ مایله کښته ورسره یو ځای کیږي. له بلې خوا د سروې په نقشو کې ویل سوي چې دا سیند د «هده» [13] له غرونو چې سویل – سویل لویدیځ کې ۱۶ مایله وړاندې دې راپورته کیږي، د «ماله هِد» [14] له دښتې تیریږي او بیا د یوې غرنۍ لړۍ له لارې چې دره په سویل کې رانغاړي په ارغسان کې نفوذ کوي؛ خو په دې شرحې کې بیا د اوبو د بهیر د تګ لوري هیڅ یادونه نـۀ ده سوې.

دوه مایله کښته په مقابل لوري یا ښۍ غاړه کې د «سودنی» [15] ستره ناله او د ۱ ۲/۱ مایل په واټن کې دوه نورې کوچنۍ نالې له ښي لوري له ارغسان سره او یوه له کیڼ لوري یو ځای کیږي: ۴ مایله کښته یوه بله کوچنۍ ناله له ښي لورڅخه یو ځای کیږي. د نورو ۸ مایلو لپاره په لږ و ډیرې مخ خلاصې درې کې د سویل – سویل لویدیځ تګ لوري په لرلو سره د ارغسان سیند د کندهار ددښتې په هغه ټکي کې راڅرګندیږي چې د کندهار – کویټې زوړ سړک د «ډۀ نو» له لارې ورڅخه تیریږي. له دې ځایه درې مایله کښته یوه بله لویه ناله چې «اشتوره» [16] نومیږي له سویل لوري ورسره یو ځای کیږي، دا ناله په سویل کې د غرونو له منځه راپورته کیږي او د «مکوه» [17] په دښتې کې ډوبیږي چې له کیڼ لورې له سیند سره یوځای کیږي. ۸ مایله نور سویل – سویل لویدیځ لور ته، سیند ناڅاپه تقریباً سویل لور ته د ۴ مایلو لپاره تاویږي او بیا ارغسان له ډورۍ سره د الحاق ټکی جوړوي، دا ټکی زموږ د پیل له ټکي څخه ۶۶ مایله لیرې دی.

د ارغسان سیند د خپل بهیر د ورستیو ۱۵ یا ۲۰ مایلو واټن کې د ۶۰۰ یاردو په ارتوالي یو پراخ او نسبتاً کم عمقه بستر لري چې د کال په لومړیو کې ئـې «د ۱۸۷۹ز کال د مارچ په میاشت کې دوه نسبتاً لوی بسترونه ول» نسبتاً تروې اوبـۀ لرلې، خو په مني او دوبي کې سیند وچ وي (همدا شان د ۱۸۸۰ز کال د سپټمبر او نوامبر په میاشتو کې وچ وو). د سیند بستر ژور دی، چې زښتې ډیرې شګې لري، جغل او کاڼي او شګې ډیرې راپورته سوې دي او منځ ئـې د سیلاب اوبـو په خپل ټول ځواک ورڅیرلی دی. د سیند غاړې یوازې څو فیټه لوړې دي چې کاڼي او شګې ښې په یو بل کې په اسانۍ ټینګې سوې دي. د اوبو او د ابو لګولو د نهرونو پاتې شونې ښیي چې د سیند ددواړو غاړو دښتې کې پخوا کرهڼه سوې وه. سره له دې چې د الحاق له ټکي ډیر پورته د سیند اوبـۀ د اوبو لګولو لپاره اخیستل کیږي، د سیند د بستر وچوالی ددې دلیل نه دی چې ګڼې د سیند اوبـۀ دې ټولې ایستل سوې وي، د سیند په بستر کې د اوبو د پیدا کیدلو او وچیدلو فوق العاده بڼه ټولو هغو کسانو ته څرګنده ده چې د افغانستان سویل ته ئـې ډیر سفرونه کړي دي.

د پراتو عام لوری : د ارغسان پورتنۍ برخه د شمال ختیځ او سویل لویدیځ لوري لري چې د معروف له ګرد چاپیره په استثناء، دره اوږده او تنګه ده، دا دره د معروف په خوا کې یوه ستره ګردۍ یا مدوره لوړه سطحه ده. د ارغسان ددرې کوزنۍ برخه په عام ډول له ختیځه مخ پر لویدیځ پراتـۀ لري او د پورتنۍ برخې په پرتلې پراخه دره ده همدلته ده چې د خشک رود دره ورسره یو ځای کیږي.

ځمکنی جوړښت : د ارغسان دره د خپلې شمال ختیځې خوا په پای کې تقریباً یوه ګردۍ یا مدَوَره لوړه سطحه ده چې ګرد چاپیره ئـې غرونه دي او په مرکز کې ئـې د معروف ښارګوټی دی؛ ظاهراً دا یوه ډیره ښه کرل سوې دره ده او ډیرې ونې لري. په دې پسې دره اوږده کیږي او د ۲۰ مایلو لپاره په اوږدوالي کې په مارپیچ ډول تنګه کیږي. له «لوړه» سره د ارغسان د یو ځای کیدلو له ټکي څو مایله پورته دا دره بیا د مخ خلاصې درې ځانګړتیا تر هغو خپلوي چې د «امین کلا» کلي ته ورسیږي، ځکه همدلته د خشک رود او ترنک درې د غرونو په وسیلې له یو بله بیلیږي او ارغسان هم خپل پراخوالی له لاسه ورکوي.

کلي : دا دره د کشک رود د درې په پرتلې ډیره کرل سوې او ډیر کلي لري، په دې حدودو کې د معروف ښارګوټی چې یو بل ځای کې تشریح سوی دی یو مهم ځای دی.

" لاندني کلي چې شرحه ئـې بل چیرې راغلې د هغـۀ سړک پر غاړې واقع دي چې درې ته منتهي کیږي : بابر، کاروان کوټزي، سګزي یا اسحاقزي، کلا عطاء محمد خان، خوګیاڼي « په دې نامـۀ درې کوچنی کلي دي»، فخرالدین او تاجو. له دغو کلیو ورهاخوا څلور نور کلي دي چې په شمس الدین خان کې د دۀ په ورونو محمد خان او نظام الدین اړه لري؛ دا کلي د تاجو د ختیځ او سویل ختیځ په څو مایلې کې واقع دي. هر کوچنی کلی ځانته د ښو اوبو یو کاریز لري خو کرهڼه په کې ډیره لږ سوې ده. د کلیو استوګن وګړي بارکزي دي او د ټولو شمیر له ۱۰۰ کورونو څخه لږ دی.

---

12 - Lahari
13 - Hadah
14 - Malahed
15 - Sodanai
16 - Ashurta
17 - Makua

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

دري کلي د پير محمد، عبدالله خان او محمد عظيم خان دي؛ دوی ټول بارکزي دي؛ هر کلی د سيند په ښی غاړه له ۲۰ تر ۲۵ کورونه لري.
قلعـهٔ امين «وگورئ : د امين کلا» د سيند په ښی غاړه کي : استوگن وگړي ئـي بارکزي دي او ۸۰ کورونه لري. ملک ئـي عبدالواحد نوميږي «نوموړی د امين خان کشر زوی دی» چي په يوي کلا کي اوسيږي؛ ديوالونه ئـي لوړ او زاړهٔ دي چي سم نـهٔ دي ترميم سوي او پر کلا باندي د گاونډ غرونه مسلط دي. دا کلی او دري نور کوچني کلي چي نومونه مو په وروستيو کرښو کي ياد کړل ډير ښـهٔ شتمن او بډای کلي دي او پراخي خړوبه ځمکي لري چي ښي اوبـهٔ ورکول کيږي او د سيند پر غاړو موقعيت لري. دلته وابښـهٔ او د اوښ څر لپاره ځايونه پريمانه دي.
عبداللطيف خان «چي دی هم د مرحوم امين خان زوی دی» د دي سيمي د شاو خوا څو مايلو په اوږدو کي د بارکزيو لوی مشر دی. ددهٔ کلی د «وندوز د نالي» پر غاړي واقع دی، دا ناله د ارغسان پر سيند ورځي او د امين خان کلا ته نيږدي ارغسان ته ورغورځي. دا کلی ډير سمسور او آباد کلی دی او تقريباً ۳۰ کورونه لري. شاو خوا وني ئـي له شماره وتلي دي او د ميوو دري ښونه لري؛ اوبـهٔ ئـي ښي او پريمانه دي چي له کاريز څخه ترلاسه کيږي. د عبداللطيف کور په دنگو ديوالونو کي راتاو دی او د مرمت په ښـهٔ حال کي ساتل سوی دی خو له شمال لوري يو غر وربانديي مسلط دي.
ددغو دَرو استوگن وگړي – يعنی د – خشک رود، لوړه او ارغسان د درو وگړي عمدتاً بارکزي دي؛ يو شمير الکوزي او سيدان د ارغسان په لويديځي برخي کي او هم پوپلزي سته. ددوی په منځ کي بارکزي موږ ته ښـهٔ ليوال او علاقمند ول خو الکوزي نـهٔ ول. سيف الله خان چي په معروف کي ژوند کوي د ارغسان ددري د بارکزيو مشر دی. ويل سوي چي معروف د امير د زيږيدني ځای دی او ويل سوي چي ډيري اشراف همدغو نيږدو کي ملکيتونه لري.
د ارغسان د دري استوگن وگړي اساساً بارکزي دي او په دي توگه د مالياتو له ورکړي معاف دي. خو ددوی کلي نـهٔ دومره نيږدي دي او نـهٔ دومره په ځير قلبه او خړوبه کيږي او نـهٔ هم ددوی د سيمي ظاهري بڼه د پوپلزيو په شان سمسوره ده چي د «لوړي» د دري د کوزنی برخي عمده استوگن وگړي دي. داسي ښکاري چي پوپلزي د خپلو ځمکو ودي او سمسورتيا ته ډيره پاملرنه کوي او هم په ارغسان کي د خپلو گاونډيو بارکزيو په پرتلي ډيري وني روزي او د ونو پالنه هم کوي. همدا شان دوی د تدارکاتو چمتو او د معلوماتو ورکولو ته ډير ليوال دي او د بارکزيو په شان تريو تندي او بدخويه نـهٔ دي. د دواړو درو د نارينه وو وني تر يوهٔ حده له اوسط لوړوالي لږ ټيټي دي او بدني جوړښت او عام ظاهر ئـي د کندهار د لويديځي خوا د استوگنو وگړو له جوړښت سره برابر نـهٔ دی. له څوو استثناء وو پرته ددوی د کورونو بامونه هموار دي. دوی معمولاً بهوسه خپلو کورونو ته نيږدي غوچوړو او يا کورونو ته جوخت څپريو کي زيرمه کوي. په دواړو درو کي خلک په پښتو ژبي خبري کوي ډير لږ استوگن وگړي دي چي په پارسي پوهيږي.
توليدات : ددي ځای عمده حاصلات غنم، وربشي او هندي جوار دي. مالوچ هم کرل کيږي خو په هيڅ ځای کي په ډيري اندازه نـهٔ کرل کيږي. رشقه (شپيشتي)، گازري او نور يوازي د بزگرانو د مصرف لپاره په لږ اندازه کرل کيږي. په عادي وختونو کي په کندهار کي د وروسته يادو سويو اقلامو بيعه په کافي اندازه لوړه نـهٔ ده چي کندهار ته دي د وړلو يا رسولو مصرف حتی پوره کړي. د ارغسان ددري په کوزنی برخي کي لږ وني سته خو د لوړي په دري کي استوگن وگړي د ونو په پاللو او ساتنو کي ډيره ليوالتيا لري. دا وني عمدتاً د توت او ولي وني دي، د ولي د وني دوه يا دري ډولونه دي.
د مير خان کلي ته نيږدي د توت وني دي چي زښتي ډيري لوئـي لوئـي وني دي؛ خو د قاعدي په توگه د ونو د ودي مخه نيول کيږي؛ او ورسره دلته سون لرگي پريمانه دي. يو شمير کليو ته نيږدي په ديوالونو کي محصور تاکستانونه سته چي عمدتاً د لوړي په دري کي دي. د بهوسي او د غلاتو د توليد په هکله د معلوماتو راټولول تقريباً ناشوني دي. ددغو دَرو استوگن وگړي د وزو او پسونو بي شميره رمي لري او هم ښاخ لرونکي څاروي لري، له دي چي دوی په ژمي کي د خپلو رمو او څارويو لپاره بهوسي ته اړتيا لري نو خلک ليواله نـهٔ دي چي د خپلي بهوسي کومه برخه ان په لوړه بيعه هم وپلوري؛ خو بيا هم په کليو کي د غلاتو او بهوسي پريمانتيا سته؛ او د لوی ځواک د اړتيا وړ توکي تقريباً تل په لنډ وخت کي ترلاسه کيدای سي. چرگان او هگۍ په کثرت دي.
وربشي لږ موندل کيږي او دليل ئـي دا دی چي ددغو ځايونو استوگن وگړي آسونه او يا وربشي خوړونکي څاروي نـهٔ لري نو له دي کبله دوی وربشي نـهٔ کري.
په ترکاريو کي يوازيني ډول ئـي څو گازري دي.
په دغو دواړو درو کي بايد د ميوو يوه څرگنده اندازه وي په ځانگړي توگه په ارغسان کي.
په دواړو درو کي د هوسيو او زرکو ستره شميره سته.
دا دري بايد په دوبي کي په وزو او پسونو ډکي وي ځکه چي پچي ئـي هر لور ته پرتي دي؛ ان د جنوری په مياشت کي د پسونو او وزو ستري رمي ليدل سوي دي. دا دري د مالځر لپاره لوی لوی مالځرونه لري چي د سويلي لرگي په نامـهٔ يو ډول بوټي باندي پوښلي دي او په ډيريو ځايونو کي وابښـهٔ شنـهٔ کيږي. د جنوری په مياشت کي په دغو پسونو باندي د خوراک لپاره څوک نبايد ډډه ولگوي ځکه چي ډيري ئـي دا مهال سيرلي / وري دي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

ددغو درو ستر ترانسپورتي حمالان غوايي او خرونه دي؛ غوايان بنسټيز حمالان دي چې تر اوښانو چټک ځي خو د ملا دردونه ئـې پاملرني ته اړتيا لري. دلته د ګوتو په شمار اوښان ليدل سوي دي، استوګن وګړي وايي چې دا اوښان د هوا له سړيدلو سره سويل لور ته ليږدول کيږي.

د اوبو رسول : په عام ډول سره کليو ته د ارغسان او لوړې له سيندونو څخه او د سيند له غاړو څخه د کوچنيو نهرونو په وسيلې رسول کيږي. د لوړې په درې کې کليو ته اوبـۀ د سيند د اتصال له لارې نـۀ بلکه ميرمنې ئـې په مشکونو کې راوړي. هغه کلي چې له سيند څخه له يوۀ يا دوه وو مايلو څخه څه دباندې ليرې واټن کې دي معمولاً کاريزونه لري. څاه ګانې په ندرت دي؛ خو په کاريزونو کې اوبـۀ په ندرت سره وچيږي او خوږې دي. په دې ولسوالۍ کې په ټوله کې د اوبو رسول په ښـۀ ډول دي. يو ځواک چې له يوې غرنۍ بطريې، د سپرو د ځواک له يوې ليوا، د برتانيې د پلي ځواک له يوې ليوا او د بومي پلي ځواک له دوه وو ليوا ګانو څخه جوړ وو، د ۱۸۸۰ز کال د اپريل په مياشت کې له کندهاره د غزني پر لور د سر دونالد ستيوارت د ځواک د خوځښت پر مهال، د کشک نخود له لارې وليږل سو. تدارکات په آسانه ترلاسه سول. «پرايز، هنل، کليفرډ، بن، ګوپال سينګه»

ارغسان : يا **ارغسان** : ارغسان د کندهار په ولايت کې د يوۀ کلي او يوې ولسوالۍ نوم دی. دا ولسوالي ۴۳۰۸ کيلومتر مربع مساحت لري او افغان سرچينو ئـې د وګړو شمير د ۷۳۳۳ تر ۱۹۹۶۲ تنو تر منځ اټکل کړی دی. ددې ولسوالۍ کرښې : لويديځ کې د دامان له ولسوالۍ سره، شمال کې له جلدک او شينکی، په ختيځ کې د معروف او سويل کې له سپين بولدک او پاکستان سره کرښه لري. د ارغسان ولسوالي ۱۶۶ کلي لري چې يو کلی ئـې هم له ۵۰۰ تنو ډير وګړي نـۀ لري. لنډ مهالي مجلې دا کلي په لاندې ډول ليست کړي دي :

ايسپنه	Ispana	ترناو		احمدزي		انبار	
آخوندزاده خيل		آخوند کلی		باهو خان	Bahu Khan	بابي زي «بابوزي»	
بروزي «بدو زي»		باغ ګل (باغ سندُرزي)		سندور زي	Sandurzai	جوري	Jori
باکله «باکولزي»	Bakulzai	بنو خيل		بُرج «برجِ سدوزي»		بند «بندګي چاغني»	
بورزي «پوسي»	Borzi Possi	بورَک خيل		بوکه	Boka	باباله	Babala
بولان «بولان سدوزي»		سر کلی		خوګياني		جواک زي	Jawakzai,
شهاب الدين زي		شيله ګي		جوک زي	Jawakzai	عبدالحميد	
پاينده خيل		تاجو		امان الله		ترغک	
جمال زي		زَرَک		چاغني		چَوکه زي	Chawkazai
خرم زي		هرام زي	Haramzai	خشت «خشته»		خان ګل خيل	
خانو خيل «خالو خيل»		درګه	Darga	دادمان دي «دو بند»		اوريا زي «وريازي» Uryazai (Woryazai)	
عطاء خيل «انا خيل»		زرين زي		ابو زي		صالح	
سپينه مسجد	Spina Masjed	سپينه		سپينه ګره	Spina Garah	سالو خان	
سر کلی		سلکتو	Salaktu	سِرکی «سورکی»	Serkay (Surkai)	سور پان	Sur Pan
سر دره		شاه بيګ «شاه بيګِ چاغني»		شورلان «شورلند»		شيخان	
شيرګی «شاګی»		شين چاه		شبان زي		توره غاړه	
غبرګه ففلوزي «غبرګ»		فرغان «نرغال»		فولاد		کابل	
Ghbarga Fofolzai (Ghbargh)		قلعـۀ تحصيلدار		قلعـۀ ضامن		حاجي حبيب الله کلی	
حاجي عبدالخالق		مفتي سبحان		عبدالرحمن خان		عبدالباقي	
غلام نبي خان		قلعـۀ امير خان		قلاچه		کلای فيض محمد خان	
قادر خيل		کسوال «کس ناوګي» Kasswal (Kass Nawagai)		کجکي		کاروان کوسي	Karwan Kusi
کاريز «کاريز رستم»		کدو «کدو چاغني»		پای ګډو	Paye Gado,	کرم خيل	

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

کوی زي «کوتي زي»		کامل زي		لنډی کلی		لوی دِه «لوی دِه بارکزی»	
Koizai (Kotizai),							
خدای نظر کلی		چتان زي	Chatanzai	سر کلی		گواري	Guwari
کاریزدان		کوغي «توغي»		لوی دِه «لوی دِه پوپلزی»		وچ غبرگ	
وَچ غبرگ		حاجي صاحب خان		عیسی زي		ناوگي «علي شیر زي»	
زیارت		نوزاد خیل		ناگندي		ملک زي «باز محمد خان»	
میو «میو چاغني»		برات		شولگر «لوړه شولگره»		شولگی	
Miyo (Miyo Chaghni),							
شپر زي	Shaperzai,	علیشیر		مردان خیل		سور گز	
یوسف خیل		آدینه		اتمان زي		شخناته «سوخته کلی»	
ماکو وان «ماکو ماکولیان»		سلام جان		سرمست		علي خان زي	
بالا شیره		حاجي سربن		جاجي لالا		حاجي محمد خان	
زیارت		گریت	Garit	مهربان		نبرین	Nabrin,
نبرین والـۀ		والـۀ		یعقوب زي		وام	Wam
لوغي «توغي»		توزنه		شیرزي		زرک باني	
زیدانان		شمل زي		کاکړان		میوند- قاضي خیل	
یاري زي		قلعـۀ نور محمـد جان		یاري		ناصره	
خور زي		مامو خیل		خوگیاني		بابوله	
بالای ناصر		پای کلی		پنگي		تالکي	
برات کلی		دانایکه	Danaika	سوبان دار	Subandar	سورچي	Surchi
اسحاق زي		شیره بولک		فتاو		کوبد خیل	
کلا گی	Kalagai,	سرداکي	Sardaki	ملا عبدالله		ملایان	
پاینده		زي	Zai,	بریداد	Baredad	برگ	Barg,
بلوزي		پیرو زي		تره کي		گل محمد زي	
رزو کي	Razokai	کوه	Koh,	ملا خان محمد		مولان زي	Maulanzai
میاني کلی		لنډي		میر کاني		تیني	Tini
زیکو زي		سپوندِ	Sapond,	سنځره	Sanzarah	شاران	
شیخ		غلام		قناتِ خیبر		کج	
سیران زي		کتونه	Katona	سمه گي	Samagai		

ارغسو : ۷ ــ ۳۲، ۲۳ ــ ۶۶ «ن» : لوړوالی : ۴۴۴۰ فیټه. دا د کوچنیو کلیو یوه ډله ده چې د دنگو، سرځوړو ډبرو د یوۀ تنگي په منځ کي په همدې نامـۀ د یوۀ کوچني سیند پر غاړه او د ارغنداب له سیند سره ددې سیند د یو ځای کیدلو له ټکي څخه ۱ ۴/۱ پورته او د کندهار د شمال ختیځ په تقریباً ۵۶ مایلی کي واقع دي.
د ارغنداب له لاري له قلات غلزایي څخه تر کندهار پوري تللی سړک له همدغو کلیو څخه تیریږي او همدا شان له همدې ځایه د «بوري» [18] او ترنک له لاري کندهار ته لاره تللي ده چې ډیره لنډه ده خو د باروړونکو اوښانو د تگ لپاره عملي نـۀ ده.
د کمپ وهلو ځمکه ډبرینه ده او د مقابل لوري په غاړه کي کلیو پوري محدوده ده؛ تدارکات په ندرت دلته موندل کیږي (۱۸۷۹ فبروري). او هم له دې ځایه ډیر لږ بار وړونکي غوایان تر لاسه کیدای سي. له سیند سره د یو ځای کیدني له ټکي څخه یوه نری ډبرینه لاره شمال لور ته تللي چې د ارغنداب د سیند گودر ته رسیدلي ده. همدا لاره هغه مهال د اوښانو لپاره له سینده د پوري غاړه اوښتلو وړ سوه کله چې ۱۵۰ تنو کارگرانو د یوې ورځي لپاره ورباندي کار وکړ. دا گودر په خپل تر ټولو ژور ټکي کي ۳ فیټه ژور دی چې بستر ئـې ټینگ ډبرین دی او د اوبو بهیر ئـې پیاوړی دی؛ یوه ریونده لاره د ارغنداب په مقابلې غاړې کي جوړه سوه چې اوښان د سیند له بستره په وتلو ورباندي پورته لوړې ځمکي ته وختلای سي.

18 - Bori

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

ارغسو نـۀ یوازې د دغو کلیو دډلې او د سیند نوم دی چې دا کلي ئـې پر غاړو ودان دي بلکه د یوې درې نوم هم دی چې دا او پر هغو ناهمواره خط الرأسونو واقع ده چې سویل لویدیځ کې ئـې بندوي. دا دره د ارغسو د سیند په اوبو خړوبیږي، دا سیند لږ پورته د بورې له سیند سره یو ځای کیږي. ددې درې عمده حاصلات جوار دي خو غنم، وربشي او وریجې هم په لږ اندازه په کې کرل کیږي. دا کلي د بادامو بڼونه او یو شمیر تاکستانونه لري. استوګن وګړي ئـې عمدتاً غلزي او الکوزي دي چې د پسو رمې لري، دوی دا رمې د وړیو لپاره ساتي او لیواله نـۀ دي چې خپلو څارویو څخه لاس واخلي. په دې علاقې کې اوښان نـۀ سته. - «بیسکو، ګیسلي.» *د ارغسو په نامـۀ یو غر هم سته چې د «چهل خانـي» په سویل کې په ۱۸ – ۳۲، ۱۱ – ۶۶ «ج» کې واقع دی.*

* **ارغتو** : ۱۹ – ۳۲، ۳۱ – ۶۶ «ن» : دا د زابل په ولایت کې د میزان د شمال په تقریباً ۱۵ مایلی کې د ارغنداب د سیند د یوې څانګې پر غاړه یو کلی دی.

* **ارغسان** : وګورئ : ارغسان

* **ارغور** : ۳ – ۳۳، ۵۲ – ۶۵ «ن» : دا د روزګان په ولایت کې د چهار چینو په شمال ختیځ کې د هلمند د سیند پر غاړه یو کلی دی.

ارگتي : ۲۸ – ۳۰ ، ۱۴ – ۶۶ «ج» : دا د «بولدک» [19] او «ګواژه» [20] له لارو له کندهاره تر نوشکي پورې د قافلو د غوره لارې یو منزل دی چې له ګواژه څخه تقریباً ۹ مایله لیرې دی. دلته سون لرګي او د اوښ څر ځایونه پریمانه دي خو نـۀ دلته مقیم څوک سته او نـۀ تدارکات. ددې ولسوالی وګړي بادیږي اخکزي دي. «ستر بولندوی افسر [21]، کوټه ۱۹۰۰»

آرق : ۵۴ – ۳۱، ۲۸ – ۶۵ «ج» : دا د خاکریز ددرې په مرکز کې یو له اساسي کلیو څخه دی. دې کلي کې د پوپلزیو ۳۴ کورونه دي. «لینس» *دا کلی د زیارتِ شاه مقصود د سویل په ۶ مایلی کې واقع دی.*

ارسلا کلا : دا د خضر چاه د شمال ختیځ په تقریباً یو مایلی کې یو وران او کنډواله کلی دی. دا کلی په اصل کې تره کې غلزیو ودان کړی وو. «بن» افغان ګزیتر په همدې نامـۀ یو کلی د دوست محمد د سویل په تقریباً ۱۰ مایلی په ۴۹ – ۳۱، ۲۵ – ۶۸ «الف» کې ښیي.

ارزو : یا : هردو زې : دا د اخکزیو د ګوجن زیو د څانګې یوه برخه ده. دا برخه چې دومره ډیره مهمه برخه نـۀ ده عمدتاً په کنچې کې اوسیږي. ددوی یو شمیر په اړوندو فصلونو کې په توبې کې پوونډې کوي. ددوی د جنګیالیو بشپړ ځواک ویل سوي چې ۳۰۰ تنه نارینه دي. ملکان ئـې سنګر خان او کهار «Khar» نومیږي. (میتلند، ملوین)

اسد : یا : **آزاد** : ۹ – ۳۱، ۲۴ – ۶۶ «ج» : دا د هغې نالې پر کینې غاړې یو کوچنی کلی دی چې له «کشوبې» (صحیح بڼـه ئـې خوږې اوبـۀ دي – ژ) سره چې د کشوبې ددښتې په مرکز کې بهیږي یو ځای کیږي.

دا کلی د «ډبری» [22] د لویدیځ «ختیځ؟» په تقریباً ۱۰ مایلی کې د کویټې – کندهار د عمومي سړک په اوږدو کې واقع دی. ددې ځای خاوره شګلنه ده چې په څپاند ډول پرته ده.

دا کلی ۷ کورونه لري او د «نورزیو» «پیرک زې » په کې میشت دي. ددې کلي استوګن وګړي ډیر زیارګاله یا زحمت ایستونکي او سوله ناک خلک دي. دا دره په عام ډول حاصلخیزه ده او د کاریزونو په اوبو خړوبیږي. «کلیفرډ» په دې نامـۀ بل کلی په ۶ – ۳۲، ۳۱- ۶۵ «الف» کې واقع دی.

اسد آخوند زاده : ۴۳ – ۳۱، ۳۹ – ۶۵ : دا د ارغنداب د سیند په ښی غاړه کې د کندهار د شمال – شمال لویدیځ په تقریباً ۷ مایلی کې یو کلی دی. په دې نامـۀ بل کلی په ۹ – ۳۱، ۲۶ – ۶۶ «ج» کې موقعیت لري.

اسد کلی : ۶ – ۳۲، ۳۱ – ۶۵ «ج» : دا د خاکریز په درې کې د «ګُـنجاب» [23] کلي ته نیږدې یوه کنډواله کلا ده چې د کندهار د شمال په ۲/۱ ۳۹ مایلی کې موقعیت لري. «لینس»

اصل کاریز : ۲۰ – ۳۱، ۴۱ – ۶۷ : دا د نخاس د غرنی لړۍ تر سویلي ډډو لاندې د «الا جرغه» [24] د سویل لویدیځ په تقریباً ۶ مایلی کې یو کوچنی کلی دی. استوګن وګړي ئـې «پسین» [25] دي. «بن»

* **اسني غر :** [26] : دا د کندهار په ولایت کې د ښوراوک په شمال ختیځ کې یو غر دی.

---

19 - Baldak

20 - Gwazha

21 - General Officer Commanding

22 - Dabrai

23 - Gunjab

24 - Ala Jirgha

25 - Pseins : دا لومړی ځل دی چې زه له داسې قومي نوم سره مخامخ کیږم. نه پوهیږم چې که دا پښین ولیکم که څنګه ، ښایي پښینیان وي - ژباړونکی

26 - دلته ئـې یو ځل بیا په عربي الفباء د غرۀ په ځای غار یعنی اسني غار لیکلی دی حال چې په انګلیسي شرحه کې غر ښیي. - ژ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

اسن زي : یا : حسن زي : ـ ۳۱، ـ ۶۶ : دا د ارغسان – لوړه د سیند پر ښی غاړه د ۶ کلیو یوه ډله ده چې د «وچ بر غوبرَک» [27] په سویل کې او د همدې خط الرأس په لمن کې د وروستي کلي په توګه واقع دي. کلیفرډ چې دا کلي ئـې یوازې له لیرې واټن څخه لیدلي دي وایي داسې ښکاري چې تر دغو کلیو راتاو ونې شنې سوې او وایي چې دا ځای د پام وړ سمسورتیا لري ځکه چې ځمکه ئـې بډایه او پریمانه ښونه لري. داسې ښکاري چې اسن زي دې له حسن زیو سره یو شان وي، دا نوم ښاغلی «مسي» په دې ډول لیکي چې له همدې ځایه تر وچبر غوبرک پورې تللی دی او همداسې ئـې اوریدلي دي او د ایوب زیو له سیمې سره ئـې یادوي او وایي چې له دغو او وچ بر غوبرک څخه د اړتیا وړ توکی ترلاسه کیدای سي. «مسي، کلیفرډ»

* **اصغري** : ۳۳ – ۳۲، ۲۸ – ۶۷ «ن» : دا د زابل په ولایت کې مقر ته د تللي سړک په اوږدو کې د شاه جوی د شمال ختیځ په تقریباً ۵ مایلی کې یو کلی دی.

اشن زي : وګورئ : اسن زي

عـشـرَک : اشـرَک : ـ ۳۱، ـ ۶۴ : دا د «سنګ بَر» [28] د غرونو سویل لویدیځو ډډو ته نیږدې له میوند څخه زمینداور ته د تللي لارې په اوږدو کې، د هلمند د سیند له کینې غاړې ۱۲ مایله لیرې او د ګرشک د ختیځ په ۱۶ مایلی کې یو کلی دی. په دې نامـهٔ بل کلی د ګرشک د ختیځ په تقریباً ۲۰ مایلی کې په ۳۱ – ۳۳، ۲۶ – ۶۸ «ج» کې واقع دی.

اشزي : دا د اخکزیو د ګوجن زیو یوه ځانګه ده. د اش زیو شمیر د جنګیالیو له اړخه ۱۰۰۰ جنګیالي لري او په عام ډول چمن ته نیږدې، توغي، سنځل او په توبه کې ژوند کوي. ملک ئـې پارادین خان نومیږي. «مل ول»

عاشق : ۲ – ۳۱، ۵ – ۶۶ «ج» : لوړوالی : ۵۷۴۴ فیټه : دا د ډورۍ د سیند پر ښی غاړه یو ښایسته پلن سری غر دی چې د شاه پسند د شمال لویدیځ په څو مایلی کې موقعیت لري. دا غر د «ګواجه» د کوتل له سره لیدل کیدای سي او ددښتې د ۴۴ مایلو په شعاع تر شاه پسند پورې د ځمکې د یوې نښې په توګه ورڅخه کار اخیستل کیږي. *«آی. بي. سي.» اوسنۍ نقشې د عاشق کلا په نوم ځای په ۹ – ۳۲، ۲۹ – ۶۷ «ن» کې ښیي.*

عاشقان : ۳۶ – ۳۱، ۳۰ – ۶۵ «ن» : دا د ارغنداب پر ښی غاړه د دریو کلیو یوه ډله ده چې له سینجیري ۲ مایله کښته او د کندهار د لویدیځ په ۱۴ مایلی کې موقعیت لري؛ دا کلي ۶۲ کورونه او ۲۲۵ تنه استوګن وګړي لري چې پارسیوانان، کاکړان او الکوزیان دي. اوبـهٔ ئـې د حصار له نهر څخه دي او د نهر پر غاړه ئـې د اوړو کولو څو ژرندي هم سته. دا کلي تاکستانونه او د میوو ښونه لري. له دې ځایه پریمانه تدارکات تر لاسه کیدای سي - «سټیوارټ، بیسکو» « په مخکینیو راپورونو او نقشو کې دا ځای د «عاشوغان، آشوګا، آشیکان، عاشوبخان او آشیزي» په ډولونو لیکل سوی دی. *اوسنۍ نقشې دا نوم د « عاشقا؟» [29] په ډول لیکي.*

اشکستاکي : دا یو ډبرین شنډ یا لم یزرع خط الرأس دی چې په عام ډول مخ پر شمال او سویل غځیدلی او د «حوض» [30] او شاه پسند په لویدیځ او شمال لویدیځ کې او د دوی او د رباط ددښتې پر غاړې د دښتې تر منځ واقع دی.

ددې خط الرأس له پاسه یوه ډیره لوړه ډبره مسلطه ده چې د برتانیې د نیواک پر مهال پر دې ډبرې باندې د «جامع کلیسا د څوکې» [31] نوم کښیښودل سو.« کلیفرډ، میتلند، هاروي.»

عشق آباد : عاشق آباد : ۳۹ – ۳۱، ۴ – ۶۵ «ن» : دا د خاکریز یا کشکِ نخود د نالې پر کینې غاړې یو کلی دی؛ دا کلی له ارغنداب سره د کشک نخود د نالې د یو ځای کیدلو له ټکي څخه ۱۱ مایله پورته موقعیت لري.«لیچ»

آشخانه : ـ ۳۲، ـ ۶۵ : دا د ملمند[32]/ مالموند په ولسوالۍ کې د کلیو ډله ده چې د ملمند د کوتل او د غورک ددرې شمالي او لویدیځ مدخل ته نیږدې د مهراب د غرونو د سویلي ډډې په لمنو، د هلمند له کینې غاړې ۷ مایله لیرې او د ګرشک د ختیځ – شمال ختیځ په تقریباً ۳۰ مایلی واقع ده.«لیچ»

عاشوغه (اشوغه) : یا : عاشوقه : ۳۶ – ۳۱، ۳۰ – ۶۵ «ن» : دا یو کلی او یو نهر دی چې ښاغلی بیلو ئـې یادونه کړې او وایي چې د ارغنداب د سیند ښی غاړې ته نیږدې د سړک په سویل کې د کندهار له لویدیځ څخه ۱۲ یا ۱۴ مایله لیرې واقع دی. کیدای سي دا هماغه د «عاشقان» یا «عاشوګي» [33] نوم وي.

اشوګي : وګورئ : تازي

---

27 - Wuchbar Ghoberak
28 - Sangbar
29 - Ashoqa
30 -Hauz and Shah Pasand
31 -Cathedral Peak
32- Malmund
33 - Ashikan or Ashugai

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اشرف : ۲۶ – ۳۱، ۲۹ – ۶۵ «ن» : دا د ډورۍ پر ښۍ غاړه باندې له ارغنداب سره د ډورۍ د یو ځای کیدنې له ټکې څخه تقریباً ۱۶ مایله پورته یو کوچنی کلی دی. د ۱۸۸۰ز کال د سپتمبر په میاشت کې د کندهار د ښار له آرامولو وروسته کله چې د کندهار ورځیرمو سیمو کې سرتیرې ځای پرځای سول دغـهٔ کلي په ورین تندي او رضائیت هغـهٔ زیرمتون ته د اړتیا وړ توکي واستول چې له دې کلي څخه ۷ یا ۸ مایله لیرې په «لا خان» کې جوړ سوی وو. «ای. بي. سي.» *په دې نامـهٔ بل کلی د جلدک په سویل لویدیځ کې په ۴۰ – ۳۱، ۳۳ – ۶۶ «ج» کې واقع دی.*

اشرف کلی : ۵۲ – ۳۲، ۲۸ – ۶۷ «ن» : دا د غزني په ولایت کې د مقر په لویدیځ – شمال لویدیځ کې د هغـهٔ کوتل پر لاره چې د ارغنداب سیند ته منتهي کیږي یو کلی دی.

* **اشترلي** : ۱۰ – ۳۴، ۱۹ – ۶۶ «ن» : دا د روزګان په ولایت کې په همدې نامـهٔ د یوې ناوې په شمال کې د روزګان په ولسوالۍ کې یو کلی دی.

عاشوګی : ـ ۳۱، ـ ۶۵ : دا یو کلی دی چې ښاغلي هنل ورڅخه یادونه کړې او وایي سیاه چپ ته د «سالاغي» [34] له لارې سړک باندې یو کلی دی. ددې کلي ګرد چاپیره تاکستانونه او د میوو ښونه راتاو دي او ویل سوي چې یو بډای او مخ په ودې ځای دی. «آی. بي. سي» *اوسنۍ نقشې د عاشوقه نوم په ۳۶ – ۳۱، ۳۱ـ ۶۵ «ن» کې ښیي.*

آشورتا :[35] ـ ۳۱، ـ ۶۵: دا یو نسبتاً لوی خوړ دی او د هغو غرونو له منځه راپورته کیږي چې د مل ددرې په شمال کې د «ماله هد» ددښتې په لویدیځ کې واقع دي او د «مکود» یا «مکاو» [36] د دښتې د اوبو له راټولو وروسته د ارغسان او د «ډورۍ» د یو ځای کیدلو له ټکې ۱۲ مایله پورته له ارغسان سره یو ځای کیږي.

له دې چې آشورتا د ۲۰ او ۳۰ مایلو په اوږدوالي واټن وهي او په دې کې د ډیرو غرونو له ډډو او ددښتې له منځه تیریږي نو باید د سیلابونو پر مهال ډیرې اوبـهٔ راټولې او ارغسان ته ئـې وروغورځوي، پرته له هغو دا خوړ په عام ډول وچ وي. «کمپبل»

آسیا هزاره : ۳۹ – ۳۱، ۲ – ۶۵ «ن» دا د خاکریز یا د کشک نخود او د ګرم آب د نالو تر منځ له ارغنداب سره ددغو نالو د یو ځای کیدنې د ټکې شمال ته تقریباً ۱۲ مایله لیرې یو کلی دی. «لیچ» اوسنۍ نقشې دا نوم د «ایز آباد» [37] په ډول ښیي.

آسیا هزاره : ۰ – ۳۲، ۴۶ – ۶۶ : دا له کندهاره ۷۸ مایله لیرې د سیند پر هغې ښۍ غاړې یو کلی دی چې د ترنک درې ته په تاویدو قلات غلزایي ته ځي او ۱۲ مایله ورڅخه لیرې دی. دا کلی یوې ژورې تنګې اوږدې درې ته نیږدې د سیند له ښۍ غاړې څخه تقریباً یو مایل لیرې واقع دی. د درانیو او غلزیو تر منځ کرښه د همدې کلي له څنګه تیریږي. دلته د غلزیو یو حق العبور هم سته.

دلته د کمپ وهلو ځای ښـهٔ دی؛ ډیره کرهنه په شا و خواو کې ئـې سوې ده. د اړتیا وړ توکي له کلیو تر لاسه کیدای سي. د اوښ خوارک هم سته، سون لرګي په قلت دي؛ اوبـهٔ پریمانه دي، خو په ختو او دوړو ککړې اوبـهٔ دي چې له سینده تر لاسه کیږي. بله شرحه بیا وایي چې د کمپ وهلو سیمه ښه نـهٔ ده ځکه ډیرې کوچنی ژور درې ورباندې راکوزې سوي دي. «پرایر»

نور بیا

* **اصیل خیل کلی :**

یادونه: قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دویم ټوک، دریم ټوک او د څلورم ټوک ټولي برخي لوستی شئ.

---

34 -Salaghai to Siachob

35 -ASHURTA

36 - Makud or Makua

37 - Ezabad

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ